# مطبوعاتي خبرپاڼه

کابل، افغانستان (د سمبر۳، ۲۰۱۱ میلادي کال)

# د پښتو تلوېزیون څخه خپرېدونکی د لېوال د لیرې ښوونځي د جنوبي اسیا په کچه د الکترونیکي- ښوونیزه تخلیق غوره جایزه وګټله



پښتو ټلویزیون او د لېوال د لېرې ښوونځي خپل ښوونیز مواد د اسیا په کچه یو ننداړتون، چې د هندوستان په ډیلي ښار کې و، ننداړې ته وړاندې کړل، دغه ننداړتون د ډسمبر د ۱ څخه تر ۲ پورې و. د لېوال ښوونځي ننداړځي ته په زرګونو ننداړچیان راتلل او د پښتو ټلویزیون څخه خپرېدونکی ښوونځي ستاینه یې کوله او ډېرو وغوښتل چې د همدې په څېر ښوونځی دې دوی ته په هندي او اردو کې هم جوړ شي.





همدارنګه د ننداړتون ترڅنګ ښاغلي ن.ر. لېوال د الکټرونیکي- ښوونیزو لارو چارو سیمنار ته عالمانه وینا وکړه، چې د ګډونوالو د تود هرکلي وړ شوله، نوموړي وویل چې ل نن څخه ۱۵ کاله مخکې ده د پښتو او دري سره سره اردو او هندي ژبو لپاره هم د کمپیوټر پروګرامونه جوړ کړي وه چې تر ننه په هندوستان او پاکستان کې کارېږي.





د هندوستان رسنۍ هم د پښتو ټلویزیون او لېوال د لېرې ښوونځي څخه اغېزمن او په خپل وار یې له ښاغلي لېوال سره مرکې وکړې.




د سیمنار او نندارتون په پای کې د پښتو تلوېزیون څخه خپرېدونکي د لېوال د لیرې ښوونځي د جنوبي اسیا په کچه د الکترونیکي- ښوونیزه تخلیق غوره جایزه وګټله. د لېوال د لېرې ښوونځی چې د ښاغلي ن. ر. لېوال نوښت او جوړښت دی او مو خه یې دا ده چې ټول د ښوونځي زده کړه د راډیو، ټلویزیون، ویډیي وسایلو او غږیزو وسایلو له لارې اسانه په خپل کور کې وکړای شي. د خوشالۍ ځای دا دی چې همدا اوس دغه ښوونځی د پښتو تلویزیون له لاري خپرېږي. پښتو تلویزیون چې یو کورنیز چینل دی، ډېرې په زړه پورې ځانګړې او د خلکو د اړتیاوو سره سمې خپرونې برابروي، یوه کورنۍ کولای شي چې په ګډه یې سره وګوري، پښتو راډیو تلویزیون خپلو لیدونکو او اوریدونکو ته ډیرې له محتوا ډکې، سیاسي، خبري، ښوونیزې او تفریحي خپرونې چمتو کوي چې ډېر څه ورڅخه زده کېدای شي.

"لېوال وویل: دا کار یو غوره مثال دی چې موږ څنګه کولای شو د ښوونکي او ښوونځي کار له تخنیکي وسایلو څخه واخلو او له دې لارې زده کړې ته د ټولو ترلاسی اسانه شي، موږ ددې کار لپاره له څو لسیزو راهیسي هلې ځلې کوو او اوس مو ډېره تجربه ترلاسه کړې، موږ د ډېرو کالونو څخه د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجي د کارونې ژوره تجربه لرو همدا وجه ده چې اوس د پښتو تلویزیون څخه موږ ښوونیزې خپرونې پیل کړي، له نیکمرغه دا چینل د سیمې په کچه له هندوستان څخه تر عربستان پورې نژدې سل میلونه څخه زیاتو پښتنوته خپرونې کوي.

د لېوال د لیري ښوونځي خپرونې چې د افغانستان او د نړیوالو تعلیمي نصابونو د معیارونو په نظر کې نیولو سره جوړې شوي، له لومړي ټولګي تر دریم ټولګي په بر کې نیسي چې د دریم ټولګي په بشپړلو سره زده کوونکي د دې جوګه کېږي، چې اساسي لیک لوست او حساب زده کړي، د دې لپاره چې زده کوونکي له ټلویزیون، راډیو، کمپیوټر، ځانګړو کتابونو او نورو د اورېدلو الاتو له لارې ښې او موثرې زده کړې وکړي. ځانګړي کتابونه او ویډیوګانې جوړې شوي، چې په کارونې سره یې زده کوونکي کولای شي د کتابونو په واسطه او یا د تلویزیون ،

راډیو او نورو اورېدلو الاتو څخه په ګټه اخیستنې سره پرته له ښوونکي زده کړې وکړي. د پښتو ټلویزیون له لارې هر سبق هره ورځ څو ځلې په مختلفو وختونو کې خپرېږي لکه سهار ۹:۱۰ غرمې ۱ بجه او د شپې ۱۱ (ناوخته د هغو لیدونکو لپاره خپرېږي چې د افغانستان څخه د باندې ژوند کوي). موږ هڅه کوو چې ډېر ژر د انټرنټ له لارې هم خپرونې پیل کړو چې د نړۍ په هر ګوټ کې اوسېدونکي ورڅخه زده کړې وکړي. په پام کې ده چې پښتو ټلویزیون به د لېوال د لېږې ښوونځي د بریالیو زده کوونکو د زده کړو د بریالیتوب د بهیر کیسې خپروي چې نور زده کوونکي وهڅېږي څو زده کړې وکړي.

همدرانګه ښاغلي لېوال وویل: چې "اړتیا د اختراع مور ده" ددې کار مفکوره د دې دریو علتونو له امله رامنځته شوې:

1. ښوونځي ته ترلاسی د ډېرو لپاره د سیاسي، ټولنیزو او اخلاقي علتونو د خنډونو په ځانګړې ډول ښځو ته امکان نه لري لېوال دلېږې ښوونځی، به هر چاته زده کړه د دوي کورنو ته ورسوي که چېرې ښځې زده کړې وکړي نو ویلی شو چې پوره کورنۍ زده کړه او د تورې تیارې څخه به د رڼا په لور پرمختګ وکړي.

2. د تېرو دېرشو کلونو ناخوالو او جګړو په ترځ کې ما ډېر داسې ځوانان، نارینه او ښځینه لیدلي چې دوی زده‌کړو ته لکه څرنګه چې لاژمه وه د ترلاسي لاره نه درلوده، او له امله یې د دې جوګه نشوو چې د لیکلو او لوستلو له ستر نعمت څخه برخمن شي. او دوی به داسې ویل (اخ ای) که چېرې ما لیک او لوست کولای شوای نو زه به کېدای شي چې سل یا زر واره زیات بریالی وم. که څه هم دوی د ښوونځي د زده‌کړو په ارزښت پوهېږي، خو دوی ونشو کولای له دې امله چې عمر یې زیات دی د ټولنیزو خنډونو له امله ښوونځي ته لاړ شي نو د دې لپاره ما تل دا فکر کاوه او دا مې هیله وه چې دوی ته داسې لاره برابره شي، چې لیک او لوست زده کړي ، له نیکمرغه دا دی همداسې وشول او اوس دوی کولای شي د لېږې ښوونځي له لارې زده کړې وکړي.

3. داسې ډېرې سیمې شته چې ښوونځي یې د جنګ جګړو، بمباریو له امله بند دي یا سوځول شوي، ښوونکي یې ځورول شوي تردې چې وژل شوي هم دي، خو د لېوال د لېږې ښوونځی د زده کوونکو کورونو ته ورځي.

د لېوال د لېږې ښوونځی سره له دې چې هغو کسانو سره مرسته کوي چې یا خو ښوونځي ته نشي تللای او یا ښوونکی او ښوونځی نشته، خوهغو سره هم ډېره مرسته کولای شي چې نورو ښوونځیو کې زده کړې کوي، دوی سره به په لیک لوست زده کړې کې ډېره مرسته کوي.

د دې لړۍ مالي لګښت ته پـه افغانستان کې لېوال مخکښې کمپنۍ IT (مالوماتي ټکنالوجۍ) ICT (مخابراتي ټکنالوجۍ) اوږه ورکړې چې د دوو لسیزو را پـه دېخوا یې پـه دې ډګر کې بې سارې پـه زړه پورې ښوونیزې او نوښتګرې اسانتیاوې برابرې کړي.

ښاغلی لېوال اوس هم پـه هندوستان کې دی کـه څوک ورسره مرکه کول غواړي، موږ سره دې پـه لاندې پته اړیکه ونیسي.

مطبوعاتي اړیکو لپاره:

ټیلفون: ۰۰۹۳۷۷۷۷۲۷۴۸۲

برېښنالیک: arika@pashtotv.tv

ویبپاڼه: http://www.pashtotv.tv